آصف بهاند ۲۰۱۵/۰۳/۲۰

# هغه اور، هغه شمال
# آ وژل او دا هم کال

## (د افغان ژورنالست سردار احمد او د هغه د کورنی وير يو کلن شو)

سبا د ۱۳۹۴ کال د حمل لومړۍ نيټه ده او د افغان ژورنالست سردار احمد او د هغه د کورنی د وژلو لومړی تلين دی. دا دی د دې ګلانو په رژولو او سو ځولو باندې يو کال واوښت. تير کال مې د دوی د وژل کيدو د وير په خاطر د اوښکو په ځپو کې له يوه ياد داشت سره د ګران دوست او زما د خوښې وړ شاعر ښاغلي لطف الرحمن خاموش يو شعر«اور او شمال» خپور کړی و.
http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_dasi_zuknashta_chy_da_our_melka.pdf
په هماغه اور کې چې دا ګلان او د افغان بڼ په زرګونو او لکونو نور ګلان وسوځول شول، اوس هم بل دی او اور يې لا نوي مرګوني ځپې پيدا کړې دی. تير کال په همدې وخت دسردار احمد او دهغه د وړې کورنی په وينو د سرينا هوټل غولی او دهليزونه رنګ شول او دا دی يو کال وروسته زموږ خپلو هيوادوالو د هغو تويې شوو وينو د کال لمانځلو په درشل کې د کابل واټونه او دکابل سيند د فرخندې په وينو رنګين کړل او د کباب شوي بدن بويونه يې پاس آسمان ته ولاړل.
د سر دار احمد او د هغه د کورنی وژل هم په دې نامه شوي و چې د قاتل له نظره هغه کفر او مباح الدم و، او د فرخندې د قاتلينو له نظره، فرخنده هم کافره او مباح الدم وګڼل شوه، و وژل شوه او بيا کباب کړای شوه. زما په وطن کې هر وژل شوی يا شهيد دی يا مردار کافر. نو ښه به نه وي چې دې وطن ته افغانستان نه، شهيدستانِ کافرستان و ويل شي؟
اوس يا همداسي شوې ده او يا مو په خپله کړې دې چې هيڅ ورځ مو بې ژړا او بې ويره نه وي.
په اخترکې مو وير دی،
په جشنونو کې مو وير دی،
په واده او جنازو کې مو چاودنې، بمباری او وير دې،
په کور غم،
په سارا غم،
په ... غم،
او په پای کې په نوي کال کې هم غم او د وير ورا.
او له بده مرغه دا اور تر اوسه هم بل دی و بليږي بسې، او «داسي څوک نه شته چې دا اور مړ کا؟». تير کال په همدې ورځ زموږ له انساني بڼ نه يو څو تنکي ګلان ورييل شول او د تولو هيواد والو او تولو دنيا والو تر سترګو وړاندې په سره ناروا اور کې وسوځول شول. د نازکو بدنونو د اور لوګي يې د هوا پر ځپو پاس روان شول چې د خدای په دربار کې د دوې په حق کې د شوي ظلم عرضونه وکړي، خو تر نن پورې يې د عريضې ځواب او درک نه دی مالوم شوی او دا دی د فرخندې د کباب شوي بدن لوګي او بويونه هم ور پسې ورغلل.

د مځکې پر مخ د عادلو؟ او نا عادلو حاکمانو حالت هم هره ورځ په بدلیدو دی چې د دوی د وژلو، رژولو او زرګونو نورو هیواد والو د وژل کیدو او د هیوادنیو ستونزو پر مسآله باندې يې خاور ې ور اچولې دي.
هغه اور چي هر چا بل کړی، تر اوسه هم بل دی او د دې اور د سوخت مواد او خوراک د افغانانو غوښې، هډوکي، وينې او د فرخندې نازک بدن دی. دلته په دې پردې هیواد او پردي قانون کي زموږ له لاسه څه راځي؟ هيڅ.
زه د ښاغلي خاموش هماغه شعر«اور او شمال» له دغې يادونې سره د افغان ژورنالست سردار احمد او د هغه د کورنی د وير په يو کلنی کې، د فرخندې د نازک بدن د غوښو د الیل کیدو د اورپه ګرما ګرم کي او دزر ګونو نورو بيګناه هیواد والو په حق کي د شوو ظلمونو په خاطر يو ځل بيا خپروم:

اور او شمال
اورونه بل دي، کـورونه سيځي
سـکروټـي دل، دودونه خـيژي
داسي څوک نه شته چي دا اورمړکا؟
ککری وسوې، سـرونـه وسول
د بريتـورو، بـريتــونه وسـول
د ښکلوپيغلومـيني پرې وسوې
د ربرورو رېرې پرې وسـوې
داسي څوک نه شته چي دا اور مړ کا؟
مماني وسـوې،کـرکنې وسـوې
د ونو څانــګې، اوځنې وسوې
کوترې وسوې،چڼ چڼې وسـوې
توتکی وسوې، اوغنې وسوې
داسي څوک نه شته چي دا اور مړ کا؟
تيرې پخې شوې،ګټې پخې شوې
د خـامـومينو،ختې پــخــې شوې
دا مـټې خاورې، متې پخې شوې
اورونه بل دي،کورونـــه سيــځي
سکروټي دل دي،دودونه خيژي
داسي څوک نه شته چي دا اورمړکا؟
دا خو شمال و،چـي اوريي راوړ
آرام يي يـــوو ړ، اوشوريــې راوړ
څوچي دا اور وي،داسي شمـال وي
کوربه موخور وي،دا به موحال وي
خـدايه تبـــاه کـــړې دشمال مينـــه
چي پرې سره شـــي زمـوره بينـه
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ